# اخ چې لنډې فاصلې وای...

د شعرونو پنځمه ټولګه

عبدالهادي هادي

د ۱۳۹۱یم لمریز پسرلی/د دوه زره او دولسم عیسوي کال لومړی نیمایي

سیډني استرالیا

WWW.SAMSOOR.COM

# اخ چې لنډې فاصلې وای...

له ګلونو ښایسته یې، ګلابونو نه ښایسته یې

ته د خدای د لاس خلقت یې، بهارونو نه ښایسته یې

ستا د حسن غزل لیکم ، واړه توري شي کم رنګي

د دنیا د ټولو ژبو ، له حرفونو نه ښایسته یې

ستا ښایسته ترنم اورم ، ستا له خیال سره او سیږم

خومره ښکلې میلودي یې، سرودونو نه ښایسته یې

ستا خندا د ګلو فصل ، پسرلي ورنه رنګ اخلي

مثنوي درنه شرمیږي ، غزلونو نه ښایسته یې

په قرآن به ګناهکار شم ، دا به نه یادوم یاره

خو والله چې د انجیل ، له آیتونو نه ښایسته یې

ناست یم ستا تصویر وباسم، خو رنګونه رانه تښتي

په انځور کې نه ځاییږې ، له رنګونو نه ښایسته یې

هره ورځ د تا له سترګو ، یو غزل پر ما را اوري

ته د شعر خوږه چینه یې ، تصویرونو نه ښایسته یې

اخ چې لږ خو رانیژدې وای ، اخ چې لنډې فاصلې وای

د هادي د ژوند امیده ، له خوبونو نه ښایسته یې

د جنوري وروستۍ ۲۰۱۲

سیډني/ استرالیا

# افسانه

اوس به درنه هیره وي هغه به دې په یاد نه وي

هاغه په سندرو رڼه شپه به دې په یاد نه وي

تا چې په اول ځل پکې ښکار کړمه، زخمي دې کړم

زموږ د کلا خوړه دروازه به دې په یاد نه وي

ما چې درته تیره کړه پر تا خوله راماته شوه

هاغه له شوخۍ ډکه ټپه به دې په یاد نه وي؟

زموږه د یارۍ او مینتوب شاهده پاتې وه

ګرانې د زیارت د ځنګ چینه به دې په یاد نه وي

تا چې به وروکتل او دواړه به بېواره شوځ

هاغه بېرسرې یو بنده به دې په یاد نه وي

زه په اور کې پاتې شوم او ته قسمت راوویستې

یاره د جګړې هغه شیبه به دې په یاد نه وي

اوس چې هادي مات ګورې، په زړه کې به دې څه ګرځي؟؟؟

زموږ د خوږې مینې افسانه به دې په یاد نه وي

# انجام

د رنې ورځې ماښام دی، ورته ګوره

یو غریب مین ناکام دی، ورته ګوره

ستا د تورو زلفو ، غرونو نه ځاریږي

څه یاغي سړی دې رام دی، ورته ګوره

د باران له غږ نه ښکلې، غزلبولې

ټول هنر د تا غلام دی، ورته ګوره

ستا له خولې نه ، هماغه خبره غواړي

زړه ماشوم مې څومره خام دی، ورته ګوره

هره ورځ مو ، یوه بله شپه پیلیږي

د افراط دغه انجام دی، ورته ګوره

په یوه سر یې دنیا پسې اخیستې

څه سرزوری زما قام دی، ورته ګوره

ستا هادي چې سر له کاڼو جنګولو

اوس مات شوی او آرام دی، ورته ګوره

۲۰۱۲/۲/۲۳

سیډني کانبیرا لاره

# انعکاس

خاوره د وجود مې وا خلي بت مې کړي بګوان مې کړي

سل ځلې مې جوړ کړي په شیبه کې بیرته وران مې کړي

دپ د ګونګې غږیمه له ځانه راوتی نه شم

تاو مې کړي په سرو شونډو او خپور لکه آذان مې کړي

زه د دې د حسن انعکاس شمه، غزل شمه

دا مې ترنم کړي او ناره د یه قربان مې کړي

چپ شم لکه کاڼی وایم هیڅ هنګامه نه کوم

شړکنده باران شي نګه شور مې کړي ګویان مې کړي

مړې سترګې راواړوي، راوخاندي، ژوندی مې کړي

خاورو نه مې پورته کړي او ستوری د آسمان مې کړي

زه د ژوندانه د فلسفې د ابهام اوج یمه

دا مې سره وسپړي، تفسیر مې کړي آسان مې کړي

نور به ریاضت هادي د عشق په طریقې کوم

ګوره که دا پاتې عمر نفس د مسلمان مې کړي

۲۰ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# اور او جنت

زړه مې مات دی، زړه مې مات دی، زړه مې مات دی

څه چې پاتې ، هغه ستا د سر خیرات دی

ستا د سترګو د جوړه کوترو ځاله

کوم کافر ویشتلی ، زما د زړه جومات دی

لږ مې پرېږده چې په لیچو دې سر کېږدم

ژوند خو هسې هم د لمر پریوتو سات دی

هره شپه مې ګل وطن په خوب کې ګورم

ننګرهار دی، کندهار دی ، که هرات دی

خلک به وایي چې هادي په مزو سر دی !

دا وطن راته سور اور ، د خدای په ذات دی

۲۰۱۲/۲/۹

سیډني/استرالیا

# آيينې

څومره زه د ژوند له دايرې نه لرې پروت يمه

ستا د خوږ نظر له زاويې نه لرې پروت يمه

ډير کلونه مخکې مې لا روح له تنه وتى وو

لا هم پر دې وچه هديرې نه لرې پروت يمه

خلک بختور دي چې تر ستورو رسيدلاى شي

زه خو دې د حسن مدينې نه لرې پروت يمه

ما روزګار وهلي نه دا خپله خيره هيره ده

ستا د ښکلو سترګو له آيينې نه لرې پروت يمه

ما د مينې تږې بلا ډيرې چيغې وکړلې

نور مې ستونى وچ دى ميخانې نه لرې پروت يمه

چا مې چې هادي د زړه ماشوم په غيږ کې ونيوه

دا ظلم خو ګوره له هغې نه لرې پروت يمه

۰۸ اپريل ۲۰۱۲

سيډني

# بانه

نن خو بله مه کوه دا بنه دې راته ډیره ده

هر وخت پر خوږو شونډو بانه دې راته ډیره ده

ما په دې وطن کې بلا بدې ورځې ولیدې

اوس چې راسره یې دا شیبه دې راته ډیره ده

سرمې درنه ځار کړمه که ژوند مې په داو کیږدمه؟

مه وایه د سترګو اشاره دې راته ډیره ده

پام کوه جانانه هسې نه چې په هوا شمه !

غیږ کې به دې وسوځم، بوسه دې راته ډیره ده

ټول عمر مې یاد نه شي چې چا دې نازولی یم

سترګو کې مې ساته همدغه دې راته ډیره ده

ګوره هسې نه چې د هادي پر تنه تیر ووځې

زه دې که وژلم یوه نه دې راته ډیره ده

# بند

پرېږده دا دنیا د تنګ نظرو بیخي هیره کړه

راشه یوه خوله راکړه او لاس رانه چاپیره کړه

غوارم چې دمه شم او اوږده ستړیا مې وباسم

پریوځه نرمه لیچه د اورمېږ لاندې راتیره کړه

څنګه به له شرمه د کلۍ په شاني سره شولې

ما دي چې په غیږ کې د دمې غوښتنه ډیره کړه

اوس خو به ډاډه یې چې زه ستا د نظر بند کې یم

ګوره چې مې ټوله ځواني ستا په مینه تیره کړه

دا درته لا چا وې چې هادي خوږه بې ټوله خوري

هسې دې د شونډو د بوسو په وخت کې ویره کړه

۲۲مارچ۲۰۱۲

سیډني

# بې مالګې حسن

چې کېنږ او ښی مې پیژندلی ،

ما د ښکلو بندګي کړیده.

چې درې کوڅې ور اخوا ،

چیرته ښکلو دي خندلي هسې

زه یم همدلته تخنیدلی ورته،

را پاریدلی ورته،

پېرې نیولی ورته.

ګنې مزاج کې لکه نور نارینه

زه هم تریخ یم ،مرچکی یم پوره،

چیرې مې مچ پر پوزه نه دی پریښی،

خو د ښکلیو مخکې

د نازولیو مخکې

لکه د شنو لکه تنکیو لښتو

لکه اوبو په شانې

همیش منونکی پاتې شوی یمه

عجیبه دا ده ، ښه مې یاد دي،

چې هورې د ېره وم

ان په ښار کې د هټیو د هندارو شاته ،

د نانزکو راوتلیو اندامونو،

سینګار شویو خیرو،

په یو ځل نه،

چې په وارونو او ځلونو باندې

زما په ذهن کې،

شیطانی وسوسې،

راپارولې والله

خو د لویدیځ دښاپیرو

او دحورو په شان ښکلو نجونو

سپینې پنډۍ او دا رواش ورنونه،

ښکلې مهینه خندا،

ګلورینه ادا،

بربنډ وجود

او بې جوړې حسنونه

لکه بې مالګې خواړه

ما پارولی نه شي

ما تخنولی نه شي

جنوری ۲۰۱۲

سیډني/استرالیا

# پښتانه

پورې غرلاندې ډبرې

شاوخوا لوړې ژورې

د جومات پر شنو ګومبزو

ناستې ځوسپينې کوترې

ځو نغريو کې اور بل دى

ترينه تاوې ځو تور سرې

په حجرو کې يې لا پاتې

ځو پګړۍ دي شمله ورې

زيږ مخونه لويې ږيرې

او درنې درنې خبرې

د شنو ونو منځ کې ښکارې

يو ځو تورې يو ځو زغرې

ځو ځوانانو په ولجه دي

ځو ټوپک راکټ لانچرې

په دنيا کې ښکته نه شوې

هيڅ فرعون ته دا ککرې

د خپل ننګ ناموس له پاره

تر سر تيرې دا لښکرې

همدغه زموږ قامونه

همدغه زموږ ټبرې

۲۴مارچ۲۰۱۲

# پېيلي ستوري

وخت زما غلام دی زمانه راسره سمه ځي

خلکو راته ګورئ ! میخانه راسره سمه ځي

جار دي تر قدم شم ، ستا قدم راپسي تللی دی

ستوري مي پېيلي دردانه راسره سمه ځي

اخ ! د ترنم الهي وخندل پخلا شوله !

ټول سرود ، سرود یم ترانه راسره سمه ځي

زه چي د کوم چا د خوږو سترګو ثنا خوان ومه

اوس شکر په لاره روزانه راسره سمه ځي

ځومره که جانانه ! نا آشنا وطن ته لاړ شمه

ستا د خوږې مینې افسانه راسره سمه ځي

دا چي د هادي د مات زړګي خاطر دي وکړلو

نور به دي تر خدایه یارانه راسره سمه ځي

۷مارچ۲۰۱۲

سیډني

# تباه

نور نه د چا روح یمه او نه خو د چا ساه یمه

تور په تومتونو ، رنګیدلی په ګناه یمه

ما مې له لمنې، اور اخیستی سوځیدلی یم

سم لکه پښتون وطن تباه، تباه، تباه یمه

ځمکه را ته تنګه شوه هوا کې سره تیت شومه

زه د کوم یتیم د خولګۍ کړیکه یمه، آه یمه؟

وخت وو چې د چا پر تور پیکي ټومبلی ګل ومه

اوس لکه د لمر سترګه لویدلی یم پناه یمه

دې د شک پر غشو د هادي زړګی سوری کړلو

زه یې لا تر اوسه د شکي سترګو خیرخواه یمه

# تږی

راشه چې نور مرمه، د یو څو خبرو تږی یم

ستا د نرمو نرمو او پستو خبرو تږی یم

زړه مې د دوستانو ، له کړو خبرو چوي نور

ستا د اثرناکو او خوږو خبرو تږی یم

یاد ، دې شي، چې ستا په نرمو لیچو مې سر ایښی وو ؟

زه مزلو وهلی، د هغو خبرو تږی یم

لړمې سترې روح، د ترنم په چینو ووینځه

ستا د آهنګینو او رڼو خبرو تږی یم

سیند ته مخامخ یم، د اوبو زمزمې اورمه

لا دې هم د شاتو او شیدو خبرو تږی یم

ښه شو چې هادي درنه دوه مخې زمانې وخوړ

ویل یې چې د سپینو ، لیونو خبرو تږی یم

۱۷مارچ۲۰۱۲

سیډني/پاراماتا

# تعبير

څوک چې درته ګرانه تر ایمانه وي دا څه مانا
ساه دې وي په تن کې دې روانه وي دا څه مانا

ټوله زندګي واخلي د شک په اور یې وسوځي
ای ! که مسلمانه، بدګمانه وي دا څه مانا

خوب مې لید جانانه که تعبیر یې راته وکوې !
زه د چا غلام هغه سلطانه وي دا څه مانا

هيڅ د غنمرنګو د مزاج په ابهام پوه نه یم
ښه وکړي شیبه کې بیا پښیمانه وي دا څه مانا

ته د زړه هنداره ورکړې دا یې درته ماته کړي
ښکلي چې هر چیرته وي ناځوانه وي دا څه مانا

دا مې د ځوانۍ د لیونتوب د وخت عادت پاتې
ورانه وي یو څوک خو په ما ګرانه وي دا څه مانا

غواړمه هادي چې شرنګیدلی غزل ولیکم
روح مې پکې ښکاري چې ستومانه وي دا څه مانا

(د دې غزل د ردیف وروستۍ برخه له ګران کاروان سره شریکه ده)

# تللې زمانه

نه ښکاري، غزل ته بهانه، نه شته

ښکلې، لکه تللې زمانه، نه شته

توري ، لکه ښکلي تریدلي دي

ساز نه شته ، سرود او ترانه نه شته

بیا دې په خوږو سترګو کې څرنګه

جنګ نه شته، شوخی نه شته، کانه نه شته؟

څنګه بندیوانه یې؟ راوګوره

لاس کې مې د زلفو زولانه نه شته

وایه چې چیرته تندی کیږدمه؟

دلته چې د ښکلو آستانه نه شته

چاته شرنګیدلی غزل ولیکم؟

لاړله ځواني او یارانه نه شته

خدایزده هادي کومو سترګو وخوږو؟

اوس یې خنداګانې جانانه نه شته

فبروري ۲۰۱۲

سیډني

# تمه او قار

د غرو خلک او د ښار سره یو ځای شول

زما تمه او ستا قار سره یو ځای شول

راته یاد دی چې دا کلی خومره شین وو

زموږ ګامونه په دې لار سره یو ځای شول

نور یې څه دي؟ ما او تا باندې غریبۍ

بیا د کلي څو اوزګار سره یو ځای شول

ته مې ښکل کړې، جام مې وڅښه ، توبه باسم

وی ګناه او استغفار سره یو ځای شول

د رنګونو عجیبه شان امتزاج دی

ټول بې لاري د بازار سره یو ځای شول

په دې ملک کې عجیب مه ګڼئ ملګرو !

که طالب او سره کفار سره یو ځای شول

زمانه به د حیرت لاسونه مروړي

چې هادي او ښکلی یار سره یو ځای شول

۳۰ مارچ ۲۰۱۲

سیډني

# تنده

ډیره موده وشوه ، خپل نظر خو راته ووایه

یو ځلې جانانه ، د زړه سر خو راته ووایه

ما دې له ښایسته، د ځوانۍ غرور لوګی کړلو

ته هم مهربانه شه، نوکر خو راته ووایه

ډیره زمانه شوه، چې د ښې خبرې تږی یم

ځان خو راته ووایه، ځیګر خو راته ووایه

غواړم په کچکول کې، ترنم په ذکات یو سمه

څو ښکلي شعرونه، په هنر خو راته ووایه

سخت د پسرلو د قتلیدو ، له کیسو سترې یو

راشه د وحشت د پای، خبر خو راته ووایه

ستا چې د غزل او د سرود ، جاګیر په لاس کې دی

خیر دی خورې غزل، د ګډ سفر خو راته ووایه !

۲۰۱۲/۲/۲۴

سیډني/استرالیا

# تنهايي

نن مې زړه نه وينې ښاخې نن مې ډيره بيوسي ده

د ګودر پر شور عادت وم اوس راپيښه خاموشي ده

څو لوګيه د سګريټو له ترخو شرابو وروسته

همدغه مې زندګي ده همدغه مې زندګي ده

چې کسات به زمانه رانه د کومې ګناه اخلي؟

په تيرو چړو مې وژني دنيا ټوله مايوسي ده

په دې ډک بازار کې ګورم يو انسان مې د ګپ نه وي

اخ چې څومره تنهايي ده اخ چې څومره تنهايي ده

ګنې وخته به مې کوز وو له اوږو نه د ژوند پيټي

ستا په سترګو مې لا ټينګه له دې ژوند سره ياري ده

زما په وران تياره مالت کې چې لا تته رڼا ښکاري

دا خو ستا د مخ سپوږمۍ ده ستا د حسن رڼايي ده

داسې مه وايه چې خدايه دا سړی له موږه واخلې !

د هادي د ژوند ډيوه خو ستا په لاس کې ابدي ده

۲۵مارچ۲۰۱۲

سيډني

# ...ته دې ښیرا بیرته واخله

خدای دې کور مه ورانوه !

کور دې آباد او سیږه !

د چا د کور د ورانیدو ،

خبر مې زړه ورانوي

د هر انسان د ماتیدو ،

خبر مې زړه ورانوي

د دوه زړګو د بیلیدو ،

خبر مې زړه ورانوي

ان د دښمن د ژړیدو ،

خبر مې زړه ورانوي

خدای دې کور مه ورانوه !

کور دې آباد او سیږه !

یاره د کور،

د ورانیدو خبرې هیڅ مه کوه

ګرانې د غم ،

د ورځو شپو خبرې هیڅ مه کوه

زموږه ژوند ،

له یو بل سره ښکلې،

جانانه خندا ، نه لنډ دی آشنا

دغه مزل،

ستا له ښايسته خپګانه ، لنډ دی آشنا.

خدای دې کور مه ورانوه !

کور دې آباد او سيره !

دلته له ډيرو زمانو راهيسې،

ساړه بادونه دي،

ږلی اوريږي،

زمورږ د ونو ،

پر ښاخونو ،

د مرغيو ځالې ورانې شولې

زموږه نوې،

زيږيدلې مرغۍ،

په شاړو دښتو کې راځوانې شولې،

ماته د کور ،

د ورانيدلو کيسه هيڅ مه کوه

ماته د چا ،

د ماتيدلو کيسه هيڅ مه کوه،

ماته مې ځان يادېږي

ماته مې کور،

ماته مې کلی،

او ياران يادېږي

خدای دې کور مه ورانوه !

کور دې آباد او سيېږه !

مورېږه د کور،

د ورانيدو ،

تجربې دېرې لرو

مورېږه د غم

د تورو شپو ،

تجربې دېرې لرو

مورېږه دا هر څه،

په خپل کور کې،

پر خپل ځان ليدلي

زمورږ غمونه،

دغه تول،

خواره جهان ليدلي

نوره د کور،

د ورانيدو خبره مه يادوه !

ستا له ښیرا نه ،

زما کرکه راشي

نه چې رښتیا هم ،

د چا ورکه راشي ! ! !

خیر دی جانانه !

خپله کړې،

ښیرا بیرته واخله

د تا پر شونډو ،

تاوه شوې،

ښیرا بیرته واخله !

خدای دې کور مه ورانوه !

کور دې آباد او سیره !

زړګی دې ښاد او سیره !

۳ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# ته سرود د خدای د نظم...

له ورېمو نه مې پیدا کړې، له څپو نه مې پیدا کړې

اخ، د ګل غوندې جانانه، له خوشبو نه مې پیدا کړې

دا ته څنګه راته وایې، چې له کومه لوري راغلې؟

په خوبو کې راسره وې، ویښو شپو نه مې پیدا کړې

ته سرود دخدای د نظم، ترنم د طبیعت یې

د سیندونو له سروده، شنو اوبو نه مې پیدا کړې

دوه ښایستوکي وري مې څري، بیګا میږه راته لنګه

د اومو شیدو له خونده، له اورګو نه مې پیدا کړې

خدای مې ستا په مخ کې ولید، تا مې خدای راته راوښود

ریاضت کوم د مینې، له سجدو نه مې پیدا کړې

بابا اوس مانځه ته ولاړه، مور مې سره تنور ته ناسته

د تودې ډوډۍ د ورېم، خوریدو نه مې پیدا کړې

هادي بیرته راژوندی شوم، غنم رنګې راته خاندي

شکر شکر لیونی چې پورې غرو نه مې پیدا کړې

۲۰۱۲/۲/۲۸

سیډني

# توپیرونه

د باڼډای د سیند په غاړه

پستو شګو باندې،

د خلکو سترګو نه پناه یوه آرامه کڅ کې،

یو ځوان او یوه پیغله ،

لوڅ لغړ پراته دي،

هغه کوي چې د ویلو نه دي.

لاروي،

حتی ورګوري هم نه.

زه یې له لرې ننداره کومه

وایم که دوی زموږ په کلي کې وای

خدایزده سبا به ،

دلته څه پیښیدل؟؟؟

له مانه اخوا یو سپین ږیری ناست دی،

ښایي اویا ، یا د اتیا کلو دی،

لاس کې یې زوړ شاني اخبار نیولی،

ښیي چې بوخت دی خبرونه لولي،

خو پټ له سترګو نه همدوی ته ګوري.

ګوره چې زړه کې به یې څه تیریږي؟؟؟

۲۰۱۲/۰۱/۱۸

سیډني/ استرالیا

# تال

ستا د نوم له تورو به پنځه پانېې ګلاب جوړ کړم

تا ته به تال واچوم له ستورو به تناب جوړ کړم

څوک څراغ راواخلي تا زما په زړه کې وګوري

ژر ورته بانه جوړه او ژر ورته خواب جوړ کړم

لا مې څه ويلي نه دي، لا خو ډېر څه پاتې دي

زه به ستا د حسن د غزلو انقلاب جوړ کړم

زه به پکې سر لګوم ، تا ته رياضت کوم

ستا د ښېنو له خاورو به مې ځان ته شين محراب جوړ کړم

زما د ذهن پاڼو نه د تا تصوير راووځي

پرېږده د ښايست هرې جلوې نه دې کتاب جوړ کړم

ياره که هادي له دې حالاتو ژوندی ووتم

ستا شونډې به ښکل کړمه رقيب ته به عذاب جوړ کړم

# جزیره

له ټول جهانه لرې جزیره کې به اوسیږو

جانانه د یوبل د زړه حجره کې به اوسیږو

بدرنګې زمانې ته به پر مخ څپیړه ورکړو

د شعر او ترنم په باغیچه کې به اوسیږو

والله چې هرې ساه ته به دې بیله غزل لیکم

خیام سره په ګډه زمانه کې به اوسیږو

د ژوند له ناکردو نه به تیارو ته پناه یوسو

د تا د تورو زلفو په سایه کې به اوسیږو

ګوښه د شرمیدلې زمانې له تنګ نظرو

بودا غوندې د خپل وجود دایره کې به اوسیږو

لمن به دې د ستورو له غمیو کړمه ډکه

د زړه د کرستال په پیمانه کې به اوسیږو

هادي د ستا د مینې تاج محل له شعره جوړ کړ

د ډیرو زمانو په حافظه کې به اوسیږو

۲۱مارچ۲۰۱۲

سیډني/پاراماتا

# جوړه

راځه له خدای سره جوړه او سیږه

زما په زړه کې شه دیره او سیږه

چې وخت تیریږي، لیوني زیاتیږي

ته دي په حسن ښه غره او سیږه

زه لاروی د وچو دښتو یمه

ته د سږو اوبو چینه او سیږه

یخې تروې او تازه توت لرمه

ته مې له پاسه شنه چیله او سیږه

لیچې کړې کړه ، بنګړې وشرنګوه

لږ خو مې شعر ته بهانه او سیږه

زه مې ګوګل ښه په امنیت کې ساتم

آشنا ! آرامه او ډاډه او سیږه

درد دې پرما ،بلا دې ټوله واخلم

ته د سپرلو په شان ښایسته او سیږه

د فبروري لومړۍ ۲۰۱۲

سیډني / استرالیا

# چې دا څه راباندې کېږي؟

چې له ځان سره یم،

ښه یم،

سم زمری یم،

وړی شی یم،

ویم چې ټولې،

ښکلې زما وای،

ویم چې ټولې مې خوړلای.

خو چې ښکلو ته نیژدې شم،

ګڼې مې وجود نیسی،

ټول وجود مې ،

سره رېږدي،

ټول خوله،خوله، خوله شم،

داسې سوړ ،

لکه ایره شم،

نه خو پاس ورته کتی شم،

او نه سترګې جنګوی شم،

دا خپل ځان ،

رانه ورکیږي،

خپل وجود ،

رانه هیریږي،

چي دا څه راباندې کیږي؟

چي دا څه راباندې کیږي؟

۱۲مارچ۲۰۱۲

سیډني

# حالت

په خدای که به یوه شیبه ویدیږم هره شپه

تیارې چي راخورې شي زه ویریږم هره شپه

ولویږمه پانه شمه ، باد مې په هوا کړي

په ځان پسې ګرځیږمه، ورکیږم هره شپه

میږی شمه، مرغه شمه، اوبه شمه یا اور

عجیب غوندې حالت سره مخ کیږم هره شپه

ټوله حافظه کې مې یوازې د تا نوم وي

لګیا یمه له تا سره غږیږم هره شپه

د خپل وجود له سیوري نه هم بیل او سمه اوس

یو نوم مې له خولې وځي رسوا کیږم هره شپه

دا دی د ډیوې په شانې مخکې راته ایښی

تصویر نه دې تاویږمه تاویږم هره شپه

هادي چي له رڼا نه په تیارو کې یم خوشال

د چا په ملاقات مشرف کيږم هره شپه

# څه که پسرلی شو؟

تير پسرلی ښه وو راته لنګي جوړه ميږې وې

ژي له کوچو ډک وو او شړومبې مو هم پريمانه وې

للمې مو کرلې وې ، رمې خر ته رواني وې

بلا ربې په آسمان کې، سپينې وريځې له بارانه وې

×××

تير پسرلی ښه وو ،ځمکې شنې وې او به ډيرې وې

ټولې يخې شپې پر موږ، په خير او خيريت تيرې وې

زړونو نه د کرکو او کينو خاطرې هيرې وې

ورکې مو له ذهنه د ناخاپه غمو ويرې وې

×××

تير پسرلی ښه وو ، د سبا تمه مو پاتې وه

پس له تورو شپو نه د رڼا تمه مو پاتې وه

تللو سخي جان ته، د دعا تمه مو پاتې وه

هم د خپلو دښتو ، د ښکلا تمه مو پاتې وه

×××

تير پسرلی ښه وو ، موږ سرو او بو منګې درلود

ناست مو پاس په تخت باندې، پاچا لکه غمی درلود

د شعرونو پنځمه ټولګه اخ چې لنډې فاصلې وای...          عبدالهادي هادي

مورږه یو امان او میرویس خان او ابدالی درلود

واک مو د کور خپل وو ، او پر سر مو هم پټکی درلود

×××

خپل مو یو نغری وو او د ختو مو کوږګی درلود

مورږه خپل وقار او خپل عزت او خپل ځایګی درلود

مورږ پر سر ځادر او هم د پښو لاندې لیمځی درلود

نور مو که څه نه وو ، نو مو روغ شانې زړګی درلود

×××

سرږ پسرلی راغی ، زموږ میړې واړه وچې دي

چا مو له غړکو نه ، غلا کړې سپینې کوچې دي

پنډې رمې ګرځي ، خو حاصل یې تورې پچې دي

للمې او شدیارې مو ، له تندې وچې وچې دي

×××

سرږ پسرلی راغی خو ړانده یو په اوبو پسې

لا ، لاسونه مروړو خپلو تیرو زمانو پسې

خپلو کې اخته یو او لا ګرځو تربګنو پسې

څرنګه اخیستې یو غمونو اندیښنو پسې

×××

سرږ پسرلی راغی ، د سبا تمه مو نه شته ده

پس له تورو شپو نه د رڼا تمه مو نه شته ده

نه ځو سخي جان ته، د دعا تمه مو نه شته ده

هم د خپلو ډېښتو د ښکلا ، تمه مو نه شته ده

×××

سږ پسرلی راغی، خو اوبو چینه مو ورکه ده

ناست د پاچاهۍ پر تخت، یو څوک لکه نانځکه ده

بل مو پر سر اور دی او سره شوي راته ځمکه ده

اینښې پر اوږو مو د غمو توره غرکه ده

×××

ناسته د امان پر تخت، د بل د کور پټکه ده

شنه مو په ذهنونو کې له خپلو ورونو کرکه ده

لا پر موږ واکمنه د جګړو توره شیشکه ده

څه که پسرلی شو ،څه که شنه مو بیرته ځمکه ده؟

۱۸مارچ۲۰۱۲

سیډني/پاراماتا

# څه وخت راځې؟

موده دې ډېره وشوه

څه وخت راځې؟

پس له کلونو وطن ځنګه ښکاري؟

خلک هماغسې دي؟

مينه وړي، بې کينې او ميلمه پاله دي لا؟

زوربېدلی، ځپل شوي ، سربدا له دي لا؟

لا هم سبا ته اسره نه لري څوک؟

لا هم بيګا ته ګوله نه لري څوک؟

لا هم شفق ، لا سپيده داغ نه شته ؟

لا هم کورونو کې رڼآ ،

لا هم څراغ نه شته؟

۲

موده دې ډېره وشوه

څه وخت راځې؟

پس له کلونو وطن ځنګه ښکاري؟

لا هم ښځې اسيرانې او بيوا که او سياه سرې ګڼې؟

لا هم د خلکو ،

د کورونو ،عزتونو او شرمونو واک له غلو سره دی؟

لا هم د سیمې او وطن ،

هغه بدنامې څیرې،

پر ځپل شوي ،رټل شوي ، لوټل شوي اولس واک چلوي؟

۳

موده دې ډیره وشوه،

څه وخت راځې؟

پس له کلونو وطن ځنګه ښکاري؟

وایه د کلیو چمبه مارې نجونې شته دي که نه؟

ها د ښارونو مکتبیانې ، آخونکارې نجونې شته دي که نه؟

زموږ د کلي د لالا ناوې تنور ته ،

جنکې سهار ټولیږي که نه؟

لا په چرګ بانګ بابا ټوخیږي که نه ؟

لا مې ادې ورته ډونګیږي که نه؟

هر مازیګر ،

د حوض پر غاړه ،

چنارونو باندې

لا هم خیلونه د مرغیو راټولیږي که نه؟

لا د اکا دمپور ټوپک؟

ورته ډکیږي ، پرې تشیږي که نه؟

۴

موده دې ډیره وشوه

څه وخت راځې؟

پس له کلونو وطن ښکاري؟

اخ بختورې ! عجب عیش دې وکړ ! ! !

ته چې راځې ، خیر دی یو سوال کومه !

نور څه مې نه دي په کار ،

لږ د پستو ، باران وهلو ، خاورو عطر راوړه ! ! !

۲۰۱۲/۲/۱۴

سیدني/استرالیا

# ځواني

لږ خو نوره ښه شه، رانه تللې ځواني راوله

ستا له تورو سترګو، جاروتلې ځواني راوله

څو به د اوزګارو د خبرو، پروا کیره یې؟

ګرمه مچه راکړه، شرنګېدلې ځواني راوله

لږ خو زمزمه، د کوم ښایستوکي غزل وکوه

بیرته د سندرو غوندې، ښکلې ځواني راوله

څنګه زمانه وه، چې زه هم د خیام وررور ومه

هاغه پیه شرابو، لمبیدلې ځواني راوله

بیا راته راوګوره، په ډک محفل کې وخانده

ستا په تورو زلفو، زنګېدلې ځواني راوله

راشه چې هادي، درنه قربان د غزل توري کړي

لاس رانه چاپیرکړه او بایللې ځواني راوله

۲۰۱۲/۰۳/۰۱

سیډني

# خدایه!

زړونه مو له زنګه خدایه وساتې

نور کلی له جنګه خدایه وساتې

ډیر ځلې لویدلي پاڅیدلي یو

بیا مو له کړنګه خدایه وساتې

ټول عمر به شعر ته ریاضت کوم

ما د بل له رنګه خدایه وساتې

دا د اژدها پر ژامه پروت اولس

روغ د دیو له چنګه خدایه وساتې

ستا پر نامه سل ځلې شهید وطن

بیا د اور له څنګه خدایه وساتې

زموږه د ګودر د مازیګر ښکلا

مسته شوخ وشنګه خدایه وساتې

هاغه د هادي د مات زړګي سټنه

دنګه غنمرنګه خدایه وساتې

۱۰ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# خدايه کابل وساتې!

نن مې کابل جانه انديښنه درته بيا ډيره ده

ناسته دې پر ګل وجود د کومې بلا ويره ده؟

بيا د کوم ابليس د قساوت په اور کې سوځې ته؟

ليکه د سرو وينو او لمبو درنه چاپيره ده

×××

ستا وچې ليمې او روغ وجود زما په ياد نه دی

پاک دې شين آسمان د جنګ له دود زما په ياد نه دی

تا چې د ديوانو له منګولو امن وساتي

داسې يو شهسوار او يو موجود زما په ياد نه دی

×××

وايي چې ښايسته وو ته دا خپله ښکلا اور کړځي

ځکه درنه تاوې بلاګانې لور په لور ګرځي

ستا بچي راپاڅي چې دا ستا لمنه وژغوري

يو ترابان ووژني خو سل ترابان نور ګرځي

×××

سور لکه د لال په خپلو وينو آباد پاتې يې

ځکه د دنيا د ښامارانو مراد پاتې يې

د شعرونو پنځمه ټولګه اخ چې لنډې فاصلې وای...          عبدالهادي هادي

ځوک دې په دنیا کې د زخمو د ټکور نه شته دي

څنګه چې فریاد وې لا هغسې فریاد پاتې یې

×××

خدایه د توپکو تورې خولې له زنګه ډکې کړې

دلته سکون راولې آرامې دلته ټکې کړې

نه چې په دې ښار کې بیا ماشوم په خوب کې وډار شي

ورکې له هر کوره د تیارو تورې شیشکې کړې

×××

ځومره بې مانا یمه مانا مې په کابل کې ده

خدایه کابل وساتې چې ساه مې په کابل کې ده

څنګه په دې شنه وطن کې شنه خوبونه وکړمه؟

مور مې په کابل کې او دنیا مې په کابل کې ده

۱۷ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# خراب

فتحو خراب کړي يو او ماتو خراب کړي يو

موږ ياره دا خپلو خواهشاتو خراب کړي يو

چاته به په جنګ کې زموږ د ماتې کيسه نه وي ياد

هر ځلې دښمن په دې ماديا تو خراب کړي يو

بس چې د تقدير د بدليدو تکل مو کړی دی

خپلو اورنيو احساساتو خراب کړي يو

موږ چې کله هم چاته د کور لارې پرانيستې دي

ځينو تباه کړي يو او زياتو خراب کړي يو

نورو ته دښمن په نيرنګونو بلا جوړه کړي

موږ خو د دې خپل کاله حالاتو خراب کړي يو

اوس به مو وختي د تمدن برجونه جوړ وو خو

هر ځل يو څو خامو بې احتياطو خراب کړي يو

څنګه مو هادي په تشو لاسو ، سوبه وکړله؟

څنګه اوس د نورو امکاناتو خراب کړي يو ؟

۲۷مارچ۲۰۱۲

سيډني

# خوشبو

نور خو بختور دي له سپوږمۍ غيږه چاپيره کړي

ځوک دي لکه زما چې زندګي په وعدو تيره کړي

ستا رڼا ته ناست يم د ډيوو په لټون نه وځم

دا به لاکوم نور وي چې تر تا به رڼا ډيره کړي؟؟؟

زړه مې پر چا روغ دی، لکه ساه راکې روانه ده

ګوره تراوش لکه خوشبو زما له شعره کړي

راشي تصور کې هره ورځ نوی غزل راوړي

زه له خلکو هير يمه خو دا مې رابرسيره کړي

ځوک دي چې د ښار د جنکو سترګې پخې ګڼي

دا خو يې د نوم له اخيستلو نه هم ويره کړي

دوه سترګو هادي د ژوند له ښې بدې ويستلی دی

خدايزده که مرګی هم د چا مينه ورنه هيره کړي

# د ځان په لټه

فقط دنیا ، د دې دنیا په شان ده

زه د هغې ، هغه زما په شان ده

د تا غرور، د تا ځواني جانانه !

یوې سیلۍ یوې بریښنا په شان ده

همیش شکي، همیش پر ځان مینه

دا لیونۍ د یوه چا په شان ده

زه یم د للمې، وچې دښتې په شان

او ستا ښایست لکه اوریا په شان ده

ته یې تکرار د یوې ښکلې اروا

د تا مثال د تا اروا په شان ده

دغه د غم، دغه د وینو کیسه

د دې جهان د انتها په شان ده

هادي لګیا دی د خپل ځان په لټه

له ځانه ورک لکه هوا په شان ده

۱۲مارچ۲۰۱۲

سیډني

# د خوب او ویښې تر منځ

ځویمه شپه ده چې رڼه تیریږي

ځویمه شپه ده چې خوبونه وینم

عجیب توپان وي،

برېبوکی وي ،

سارې بادونه وي او تالندې وي

زمورې کلی توپانونو ،ګردبادونو وي په سر اخیستی

تورو بادونو وي په سر اخیستی

تورو تیارو وي،

په رڼا پسې خنجر اخیستی

لکه چې کلي وي نظر اخیستی،

ساه مې ډوبه ،غږ مې دپ وی

او زاره مې چوي

چې د بادونو او ګردونو له شا ،

تپو تیارو او ګرد بادونو له شا ،

نری رڼا او زیړی لمر راووځي

یو خوا عیسی ،بلخوا آذر راووځي

یو مست ملنګ او قلندر راووځي

له واړه کلي نه کړي غیږ راتاوه

باد او باران ،

باندې هم واک چلوي،

وحشي توپان باندې هم واک چلوي

زما د کلي، کلیوالو او همزولو ،

له سرونو او مخونو ، نه ګردونه څنډي

زموږ شدیارو کې ،

غنم وکري

وچو نهرو کې شي اوبه رواني

ان د سور ګل او د شین ګل ،

خیلخانه

چې له کلو سره خوابدي وو ،

بدې یې لرل

یو د بل وینو ته وو تږي

او مورچو کې ناست وو

سره پخلا کړي،

او په ځان پسې روان کړي واره

هغوی د مینې مریدان کړي واره

توپکې ماتې کړي،

نیزې ماتې کړي

د دنیا ټولې اندازې ماتې کړي

د ملنګ مخ نه د خدای نور وریږي

په موږ رڼا د کوه طور وریږي

عجیبه شپه وه هیڅ مې خوب ونه کړ

ساه مې ډوبه ،

غږ مې دپ وو،

او زاره مې چاوده !!!

**جنوري یو ویشتمه ۲۰۱۲**

سیډني/استرالیا

# د ژوند مانا

ستا یوه موسکا مې د بېخونده ژوند مانا شوله

شکر شکر شکرچې تا وخندل رڼا شوله

زما د ذهن پاڼه دغه ستا پر نامه ډکه شوه

ستا مینه مې ځمکه شوه اوبه شوله هوا شوله

اوس نو د بې ننګه زماني په مخ کې څه پاتې

بیا مې چې په برخه ستا د دوه سترګو دنیا شوله

خلک زما مخکې د تا نوم اخلي او وخاندي

دا زموږ ساده مینه چې څرنګه معما شوله

لا مې چې له ژوند سره رشته د یارۍ ګورې ته

دا خو دې قبوله د سرکو شونډو دعا شوله

نور نو هادي څه وم خو دا تا سره ژوندی شومه

دغه مې آغاز وو او همدا مې انتها شوله

**۵ اپریل ۲۰۱۲**

سیډنې

# د ژوند هوسۍ

زما د زړه خبره وه د تا له خولې نه ووته

تاته مې له زړه نه چې دعا له خولې نه ووته

اوس دې نو رقیب د کوڅو خاورې په سر واړوي

زما د ژوند هوسۍ د اژدها له خولې نه ووته

ښه شوه چې کامیابه شوې او جنګ د ژوند دې وګاټه

نوره دې ځواني یاره بلا له خولې نه ووته

اوس شکر تنها نه یم د تا انځور مې مخکې دی

ډیره موده پس مې چې خندا له خولې نه ووته

راشه راترغاړېوځه او زړه د رقیب وچوه !

اوس خو دې بانه نوره د غلا له خولې نه ووته

ما دې شونډې ښکل کړلې او ده په ګناه ونیوم

دغه ناشولته د ملا له خولې نه ووته

دوی به محفلونو کې د تا هادي لونډۍ ګاڼه

زما به نهیلیو کې ښیرا له خولې نه ووته

۱۳مارچ۲۰۱۲

سیډني

افضل ټکور ته چې راباندې ګران دی او یادېږي مې، په لندن کې د هغه د نمانځغونډې په بانه :

# د سکوت له انتها

وه د زړه ټکوره ! درنه ځار شم څنګه غلی یې؟

کوم ښکاري ښکار کړی یې او چا په زړه ویشتلی یې؟

یاد دې شي چې شور د محفلونو به له تا نه وو؟

ته مو د سندرو یو لوی برج یې او جګ څلی یې

×××

تا خو د غزل له ښاپیریو سره تار درلود

تا خو به د ښکلو له ټولګیو سره تار درلود

تا به له ځنګل او له ببریو سره تار درلود

تا به له نښتر او له خیریو سره تار درلود

×××

وایه دا سکوت او انزوا له تا نه څه غواړي؟

دا بلا دې ونه خوري ! بلا له تا نه څه غواړي؟

درد دې د زړه جار شمه ناره یې کړه، اوچت یې کړه

درد ته ژبه ورکړه، نور دنیا له تا نه څه غواړي؟

×××

د شعرونو پنځمه ټولګه اخ چې لنډې فاصلې وای...          عبدالهادي هادي

پاڅيرې د حسن بتخانه په ګډا راوله

ټول غزل غزل شه زمانه په ګډا راوله

شابه د سکوت توره پرده په چيغو څيرې کړه

بيا نغمه نغمه شه ميخانه په ګډا راوله

×××

ښه شوه موده پس دې،د سکوت له انتها اورم

نن د تيمز له غاړې،د شرقي صوفي سما اورم؟

دا له کوم قفس نه ،د بندي مرغه چغا اورم؟

خدايه په يورپ کې،د حمزه آواز رسا اورم؟

×××

زه او ته ټکوره ! شته وطن کې بې وطنه يو

څو شهيد سرونه ، جدا شوي له خپل تنه يو

مورې د بودا د نړيدلي وجود غړي يو

چا را قاچاق کړي تر سيدني او تر لندنه يو

×××

وې وژلو وې وژلو ، کور يې رانه واخيسته

زمورې په نغريو کې بل اور يې رانه واخيسته

مورې ابريجنل(۱) يو زمورږ زور يې رانه واخيسته

ټول په غم اخته شوو ، ټنګ ټکور يې رانه واخيسته

×××

خو:

دا غمونه لږ دي زموږ زړونه ماتوی نه شی

موږه لا ژوندي يو موږه څوک محوه کوی نه شي

زه او ته به دواړه دا دنيا په شعر روښانه کړو

موږه له دې لارې هيڅ جابر راګرځوی نه شي.

۹ می ۲۰۱۲

سيډني

# د غم کيسه

دا د جنګ او د جګړو کيسه اوږده ده

زموږ د غم د اوږدو شپو کيسه اوږده ده

ستا له ښکليو خوبولو سترګو ځار شم

زما د وير او بيخوبو کيسه اوږده ده

ستا مغرور مغرور کاته، زما سوالونه

دا د وربيو او مړو کيسه اوږده ده

اوس عادت يم، په دې هيڅ نه خپه کيږم

ستا په شونډو د بانو کيسه اوږده ده

لږ دې ليچې را اوږدې کړه چې سر کيږدم

د سفر د ستومانو کيسه اورېده ده

ما چې سترګې پرانيستلي په غم سر يم

دې وطن کې د غمو کيسه اورېده ده

هادي داسې په ځوانۍ په زړه سوری شو

چې يې بيا د رغيدو کيسه اورېده ده

۱۰مارچ۲۰۱۲

## د لطافت شيوه

اوس په ژوندون پوه شومه، ايله مې ژوند نه خوند واخيست

خوب کې مې جانانه ستا له شونډو چې پيوند واخيست

ځو مره وم بېخوبه، ځنګه سترې ستړی پريوتم

خوند مې د خوبونو ستا پر سپين ښايسته مړوند واخيست

تا که د (ماري)د لطافت شيوه درخپله کړه

ما هم د(جبران) له سرودونو ځنې اند واخيست

ما ويل چې حسودې زمانې ته به دې نه ښيم

بيا مې په محفل کې ستا پر نوم باندې سوګند واخيست

ستاسو په مالت کې رقيب ډک ټوپک نيولی وو

مرګ راته حيران وو چې ما ستا د شونډو قند واخيست

وليکه هادي لږ په آسانه چې عشق څه شی دی

ګوره که کوم سوی درد يدلی ورنه پند واخيست

# د نورچينه

تا پر ځمکه وويشتمه ستا د لاس آينه ومه

سل ځلې دې مات کړمه خو لا هم درسره ومه

بيرته دې راوکتل ذرې،ذرې دې ټول کړمه

مخ ته دې چې ونيولم لا هغه ښيښه ومه

ياد دې شي جانانه کائنات مې ټول مهار وو خو

تا ته به چې راغلمه نو پروت به په سجده ومه

ستا پر نرمو شونډو به چې تاو شومه غزل به شوم

تا به ترنم کړمه د تا د خولې ټپه ومه

څنګه له حالاتو سره واوښتې را واوښتې؟

ته د نور چينه وې او زه ستا د مخ جلوه ومه

مه پوښته چې څنګه يې هادي ته غيرږه خلاصه کړه

تاک په دې پوهيږې چې زه ستا د عشق کيسه ومه

مى ۲۰۱۲

سيډني

# دا خلک او دا ښار

مالدار خلک به ډیر وي ، سړي کم دي په دې ښار کې

ذره عقل یې نه شته ، داسې هم دي په دې ښار کې

د پنډو کتابونو او ویب پاڼو ، شاته پټ وي

په خدای له جهله چوي ، چم په چم دي په دې ښار کې

د ګیډې غم یې نه شته ، په فتنو سره اخته وي

یو څو خو د دجال بچي ، سم دم دي په دې ښار کې

ماضي ده ورنه ورکه ، او له حاله دي په تیښته

بې میني، لکه مړي ، یو رقم دي په دې ښار کې

رښتیا یې که زړه تنګ وي، دا وطن یې نه خوښیږي

حیران یم چې بیا ولې ، دلې تم دي په دې ښار کې

د اهل او د غله او د قاتل توپیر یې نه شي

هر چا دلې لمبلي ، په زمزم دي په دې ښار کې

جنوري ۲۰۱۲

سیډني/ استرالیا

درده !

درده، درده وه نامرده ! درنه مرمه

ما کیسه دمینې سر ده درنه مرمه

غږدې اورم ساه مې ډوبه، ډوبه کیږي

هنګامه دې د سفر ده درنه مرمه

که په لاره کې دې لاس د رقیب ونیو

درته وایمه په زغر ده درنه مرمه

یوه غاړه، یوه خوله خو رانه واخله !

چې لګیا یمه درګرده درنه مرمه

زندګي خو اجاره زموږ نه ده

ژوند رڼا د مازیګر ده درنه مرمه

هادي سره تبه کې پروت دی غزل لیکي

دا شیبه سمه محشر ده درنه مرمه

۱۲ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# دعا

زما دعا درته هماغه ده چي کړې مې وه

چي چيري ځې ،

زما دعا به درسره وي ياره

اولوی الله به درسره وي ياره

زما اروا به تر تا مخکې درومي !

لمر او رڼا به تر تا مخکي درومي

زموږه خلکو ،

نوی فال نيولی

هغو په ښو ،

سږنی کال نيولی

خلکو اسره ،

د تا په شال کړېده

دعا يې خدای ته ،

د ښه کال کړېده

ته خو ځواني لرې ،

ښکلا دې شته ده !

او له سپرلو ښکلې خندا دې شته ده

که دي وطن کي زموږ شپه راغلله

يا دي پر لار ،هلته دمه راغلله

ته خو غني يې خندا ډيره لرې

ته خو له حد نه ښکلا تيره لرې

پر وچه ځمکه ،

د ښکلا جاګير خو تا سره دی

د ماتو زړونو،

آبادی اکسير خو تا سره دی

زما وطن ،

د وچکاليو دوزخو کې سوی

زما ملت ،

په سرو اورونو او لمبو کې سوی

هلته وطن کې

زما او ستا پر خاوره

د خندا ګانو هنګامه جوړه کړه

او،

د ښايست د پسرليو کارنامه جوړه کړ

د خپلو سرو شونډو خندا وکره

هلته ښايست ،

هلته ښکلا وکره

ته د سپرلو الهه

تا سره ډیر دی ښایست

زما دعا درته هماغه ده چې کړې مې وه

چې چیرې ځې ،

په مخ دې ښه،

تر مخ دې سره ګلونه

زه به مې سترګې،

د باران د رڼو څاڅکو په شان

د تا پر لاره په پرتو

او پستو شوو خاورو وشیندمه

څو چې راځې ،

زه به دې لاره څارم.

# دعاګانې

اوس پر تیارو بریم رڼاګانې راسره دي

ستا د نرمو شونډو دعاګانې راسره دي

نور شکر یوائې دا اوږده مزلونه، نه وهم

اوس دې د یادونو لواګانې راسره دي

یاره په ویښتو کې مې دا سپین تارونه مه شمیره

لا مې نفس یاغي دی ګناهګانې راسره دي

اوس به مو مالت کې توري شپې وخته روښانه وې

څه وکړو کاونډ کې بلاګانې راسره دي

زه لکه ماشوم چې خوله وانخلمه خوب نه راځي

څه وکړم انسان یم خطاګانې راسره دي

یو چې هادي سترګو کې د خوب په شانې وساتې

څو نورې همداسې آرزوګانې راسره دي

۳۱مارچ۲۰۱۲

سیډني

(یو څه ګناه خو رانه شوې وه چې ته یې راکړې
څه وشوه خیر ، الله په دې دنیا عذاب راکړ)

## ډالۍ

نن یې راته وخندل او نن یې سور ګلاب راکړ

خلکو مبارک مې شه ! یو چا راته ځواب راکړ

څم چې دغه ټوله میخانه په ګډا راولم

شور یې د ځوانۍ راوړ او سوز یې د رباب راکړ

ما چې به ټول عمر د چا نوم په تسبو اړاوه

خدای مې د عمرونو د توبو راته ثواب راکړ

نور به د آشنا په اشارو باندې ګام اخلمه

ژوند یې څه پروا که پر اوبو لکه حباب راکړ

ښکلې چې لمدو زلفو ته شرک ورکړ راوبې کتل

سترګو یې د سل زره غزلو یو کتاب راکړ

کله نه هادي چې نذرانه د چا د زلفو شوم

خدای راته یو زړه له شوره ډک لکه دریاب راکړ

# ډیوه

راپه یاد یې ، اندیښنه دې راسره ده

زما هم تبه ده، تحفه دې راسره ده

نور مې شپې، د زړه له کوره په وتو دي

شکر شکر ، مخ ډیوه دې راسره ده

درد دې اخلم، توره تبه به دې پرې شي

د سخي ملنګ، نسخه دې راسره ده

ځله ریږدې، ځله داسې اوتر ګورې؟

راشه واخله، لوپټه دې راسره ده

سخت ساړه دي، بهر واورې ډېرې شوې

غلې کېنه، بیګا شپه دې راسره ده

لا وختي ده، لا خمار خمارویده یم

لا د ګل وجود ، خوله دې راسره ده

۱۲/۲/۲۱

سيډني

# رنګ

دلته دا ځانونه په بل رنګ نو خلک ولې کړي
سترګې نا آشنا کړي لار په څنګ نو خلک ولې کړي

مونږ په سرو شرابو چې کاپر کاندي تکفیر مو کړي
دومره په آسانه کار د بنګ نو خلک ولې کړي

مونږ د مينې تږي خو په مينې پسې نه رسو
نه پوهيږم ياره چې دا جنګ نو خلک ولې کړي **

خدای خو دا انسان لکه غمی داسې پيدا کړلو
کله لکه او سپنه دا زنګ نو خلک ولې کړي

مونږ خو دومره نه يو چې يو بل ته خوشالي ورکړو
خدای چې څوک خوشال کړي دا زړه تنګ نو خلک ولې کړي

لا هم چې هادي په محفل کښ شم ځيني وريږدي
ويره له دې خوار فقير ملنګ نو خلک ولې کړي

# رود، زیارت او کلی

د غره پر سر چې يو زيارت ، پر يو ملنګ دی آباد

ورلاندې رود ، دی، زموږ کلی يې تر خنګ دی آباد

عجيبه خاوره ، عجيبه يې معرفت شوی دی

وايي وطن د افغانانو خو ، په ننګ دی آباد

چې مرګ او ژوبلو ته يې ګورې، ته وا ، ورک شو ملت

د وينو سيند کې يې چې ګورې، په بل رنګ دی آباد

چې څوک مو پرېږدي په آرام، چاته خطر خو نه يو

چې څوک مو وژني، زموږ تاريخ خو بيا په جنګ دی آباد

زما ملت له ولږې مري، وچې ګولې ته حيران

په کوه نور يې تاج د پيغلو ، د پرنګ دی آباد

ياره هادي د ښار د خلکو ، دوه مختوب نه سترې

څه په رباب، څه په چلم او څه په بنګ دی آباد

جنوري ۲۰۱۲

سيډني/ استراليا

# زړه تنګي

غواړم له ژوند سره يو کار وکړمه

نور به نه ښکار شم نه به ښکار وکړمه

وايه چې څه ورېږ رياضت وکوم؟

چې دې شکي زړګي ته لار وکړمه

لکه د مار مې په زړه نيښ راکوي

پرکوم جانان چې اعتبار وکړمه

د ښکلو ميني نه توبه وباسم

خو دا ګناه تکرار تکرار وکړمه

لاخو ځواني ده ليونتوب دی شيخه !

څنګه له ښکلو نه انکار وکړمه؟

لکه ماشوم مې دا عادت پاتې دی

خپله ګناه ، خپله اقرار وکړمه

هادي دا ژوند مې دومره تنګ کړي کله

وايم په خپل تندي ګذار وکړمه

۱۵مارچ۲۰۱۲

سيډني/پاراماتا

دګران سالک د یوه غزل پر ځمکه:

# زمانه

څنګه زمانه وه ، زمانه زما په لاس کې وه

ستا د خوږو شونډو ، پیمانه زما په لاس کې وه

تا به چې له کبره پاس د هسک هنداره وویشته

زه به درنه تاو شوم نذرانه زما په لاس کې وه

تا به تورولې ښکلې سترګې په رنجو باندې

زه به درته ناست وم آیینه زما په لاس کې وه

یاد دې شي خیام چې راته مخکې ګوره ایښې وه

ټول نیشه نیشه وم میخانه زما په لاس کې وه

څومره خوشالي وه، څومره ښکلې زندګي مې وه

ستا د تورو زلفو زولانه زما په لاس کې وه

خود به مې اوس ژیړ بشرا و خیرې ګریوان ژاړمه

وخت وو چې د ښکلو آستانه زما په لاس کې وه

تا چې د هادي د زړه کعبه په کاڼو وویشته

دا خو ستا د میني آشیانه زما په لاس کې وه

۲مارچ۲۰۱۲

سیډني

# زندګي

ځومره خوشې، څومره ستړې زندګي وه

بې له تا نه چې ما کړې زندګي وه

خپله دلته ، روح مې چیرته سرګردانه

زاره چاودې، میراتمړې زندګي وه

ستا د شونډو ، له سرو میوو مې پیدا کړه

ګنې ما نه اوبو وړې زندګي وه

زمانه څومره بدرنګه وه چې نه وې !

د بلا د کاله غړې زندګي وه

ولې پوښتې، چې ژوند څنګه تیریدلو ؟

بې له تا نو هغه مړې زندګي وه؟

اوس خو ښه یم هادي ساه راکې چلیږي

پخوا ډیره مخ پر زوړې زندګي وه

۲۰مارچ۲۰۱۲

سیډني/پاراماتا

# سپر

غږ مې اورې؟ تا ته وایم زندګي

ته به زما یې، زه به ستا یم زندګي

ما په سرو شونډو درتاو کړه، هیر مې نه کړې

ته سفر، زه دې دعا یم یم زندګي

ما درواخله، ستا په لاره باندې پروت یم

چې هیر شوی له هرچا یم زندګي

د دې ټولې دنیا پام زموږ په لور دی

چې زه څرنګه تا ستا یم زندګي

هیڅ په لاره له تیارو نه مه ویرېږه

زه دې سپر د هر بلا یم زندګي

پښې دې رېږدي، ساه دې سوې، درنه لوېږم

چې تر څو به درپه شا یم زندګي؟

هادي څنګه به آباد وم په ملګرو !!!

اوس په لوی ښار کې تنها یم زندګي

۱۵ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# ستړی

سخت د ژوند له ماتې لوبې ستړی یم
نور له دې میراتې لوبې ستړی یم

نور دې نو له خولې نه زهر نه څکم
خدای چې له دې پاتې لوبې ستړی یم

څنګه دې د خلکو د خبرو کړم
ستا له دې پساتې لوبې ستړی یم

سل ځلې شیبه کې مروره شې
بس، له بنګړي ماتې لوبې ستړی یم

راشه په رښتیا ، راته راغاړه ووځه
ډیر دې له دې زیاتې لوبې ستړی یم

یو ذولقافتین غزل:

# ستوری

ستا د سترګو له تاوانه، وتل ګران دي

لمر ته مخامخ ، جانانه کتل ګران دي

توره خاوره یم ، د پښو لاندې مې ځای دی

او ته ستوری، تر آسمانه ختل ګران دي

ستا د سترګو ، حدیثونه راته وایي

چې د ښکلي زړه ، آسانه ساتل ګران دي

دا خو نه شي چې د سوال ، لمنه پرېږدم

لاس له ځان او ، له ایمانه وینځل ګران دي

د رقیب د خیلخانې دي ، لاس آزاد وي

ورته وایه ، له افغانه ګټل ګران دي

هادي سل ځلې ، په ورځ کې درنه ځار شي

تا ته یو ځلې ، تش ګرانه ویل ګران دي

۲۰۱۲/۲/۲۳

سیډنی/کانبیرا لاره

# ستوري او سپوږمۍ

غم دې نه دی لکه سیوری راسره وي

بلا وخت شو دا سرزوری راسره وي

لکه مست نیشه له ځان سره خندیږم

چې هر یاد دې لکه ستوری راسره وي

تش د خدای په توکل په لاره نه ځم

خپل مرام او یو تګلوری راسره وي

له تیارو سره په جنګ کې تنها نه یم

د دنیا هر یو کمزوری راسره وي

دا چې ستوري او سپوږمۍ مې پښو کې رغړي

دا خو ستا د نظر لوری راسره وي

هادي څومره نه بدنام یم چې یادیږم،

د یو چا د نامه توری راسره وي

۲۹مارچ ۲۰۱۲

سیډني

# سرسام

ټوله رڼا ستا شه ګلي زه تياره ماښام شبه يم

پريږده د نظر په شاني پروت د چا پر بام شبه يم

مه مي پخوه چي نور د اور د ټينګي نه يمه

پوخ يمه د ننه له بهر نه يو څه خام شبه يم

زه خو د دنيا د رواجونو پروا نه ساتم

عقل دي د نورو وي زه دغسي سرسام شبه يم

زما او د سکون له وړکتوبه سره ورانه وه

ژوند د پښتانه يمه په منډه او نارام شبه يم

پريږده چي شکي دنيا ايمان په ګمان وبايلي

پروت لکه مظلوم بندي په سل رنګه بدنام شبه يم

ته د سترګي خوب اوسه د شني ونې په سيوري کې

زه لکه احساس د سترګيا ستا د خوږ اندام شبه يم

مه وايه هادي ته چي ماضی له ذهنه وباسه

داسي پريشان لکه د مات پوځي انجام شبه يم

# سزا

همیش سترې، تل بیخوبه،

لالهانده، لالهانده،

زندګي هم عجیبه ده

نیمه ورځ ده نیمه شپه ده

څه پیچلې فلسفه ده !

د جانان وجود رڼا ده

په دې ټول جهان خوره ده

د ښایست په میخانه کې

د هر چا یوه پیاله ده

د چا ډکه ، د چا نیمه

د چا لاسو ، نه چپه ده

دا د ژوند ټوله کیسه ده

ورک سکون ته تلوسه ده

عجیبه ده ، عجیبه ده

زندګي د ستا خندا ده

د ستا سترګو کې دنیا ده

ستا وجود د چا رڼا ده

عجیبه ده ، عجیبه ده

زندګي زموږ سزا ده

نا مالومه شاني يون دی

نا مالومه انتها ده

۱۹مارچ۲۰۱۲

سيډني/پاراماتا

# سکون

څنګه دې کلک په خولګۍ لاس نیولی

چا دې جلب د زړه د آس نیولی؟

له غرونو ،غرونو ،دریابونو اخوا

زړونو مو څرنګه تماس نیولی؟

خیر دی یو شین څراغ خو بل وبنایه !

لږ مې ژوندی کړه، زړه مې یاس نیولی

په زړه دې پوه یم، په خوله هیڅ نه وایې

ذهن دې وریځو د وسواس نیولی

ای د سرود او ترنم الهې !

ما دې په چوپې خولې قیاس نیولی

یوې خبرې دې اوبه، اوبه کړم

وجود مې ټول عجیب احساس نیولی

د چا د بد نظر پروا ونه کړې

ما دې قران تر سره پاس نیولی

هادي د خپل کلي سکون راکوي

ما چې د شنو چایو ګیلاس نیولی

۲۰۱۲/۰۲/۲۰

سیډني

# سونامي

فیس بک او مسینجر او زموږ د کلي د جومات پیتاوی یو شانته دی

هلته هم زموږ د کلي اوزګار خیل سره راټول او

خپله ښه د نورو سپکه کوي،

دلته هم،

له هره ګوټه،

کار نه غلي، روزګار وهلي، د ژوند له شوره تښتیدلي خلک،

نوي ځوانان او پیغلې،

یا هم د مرګ په تمه ناست وګړي،

د زړونو بړاس وباسي،

او تر نیمو شپو خوشې خبرې کوي.

چیرته په زرو کې یوه د کار خبره وشي،

خو نور ټول د میس یو، کیس یو او هاهاهاها لولز، په چړو،

د ښکلي وخت د قتلولو،

ډرامه روانه.

د ورې شوې، لنډې شوې دنیا ،

د تکنالوجۍ دې سونامي ته ، د چا پام هم نه دی.

۲۰۱۲/۱/۱۲

سیدني/استرالیا

# شپه

شپه له کیسو ډکه ده او شپه ډیره خاموشه ده
شپه د سفید پوشو ګناهکارو پرده پوشه ده

دا سپینه لمن او دا اوږده قبا چې ګوري ته
دا له بلا ډیرو ګناهونو هم آغوشه ده
شیخه ! اوس به څه له خپلو تیرو توبه وباسو
زموږ خو والله ټوله ځواني تیره دریانوشه ده
چا په اسطورو کې د ښایست الهه یاده کړه
ما وې دا خو ته یې، زموږ د کلي ګلفروشه ده
ساه مې په کالبود کې د سکوت پنجره ماته کړه
اوس یوه نغمه د دریابونو له سروشه ده

ګراني د هادي د غزلونو تعبیر ته یې بس
نور یې د ژوند پاڼه ګنې پاتې له خروشه ده

۰۹ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# شپیلۍ

ډیره زمانه شوه چې د شر خبرې اورمه

دې د کفر ښار کې زه اکثر خبرې اورمه

خومره خوش نصیب یم چې اوس تا سره یادیږمه

ستا د محلې د هر نفر خبرې اورمه

زه له ماشومتوبه په همدې خبرو روږدی یم

هر سهار د توپ او د لښکر خبرې اورمه

زما د خپلوغرونو او ښېترو ژبه یاده ، ده

پورې د دې غره او د ښېتر خبرې اورمه

لا خو مې شپیلۍ ده د ګودر د ترانو ژبه

ستا د ښایستونو د محشر خبرې اورمه

اوس خو د هادي د شنو خوبونو جزیره یې ته

هر خوا نه جانانه ! ستا په سر خبرې اورمه

۱۲ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# شرارت

واه د نور د کرښو تلاوت نه وو نو څه وو دا

جوړ دي په محفل کې قیامت نه وو نو څه وو دا

زما چې د زړګي په درزا ټول عالم خبر شولو

ستا د شوخو سترګو شرارت نه وو نو څه وو دا

نن چې مخامخ شوو زموږ دواړو رنګ الوتی وو

بل که په زړه اور د محبت نه وو نو څه وو دا

چا به چې زما خبره وکړه ته به سره شولې

دا دي که له ما سره الفت نه وو نو څه وو دا

تا به دي د حسن غزل بیا بیا رانه وغوښته

ستا پر ښکلو شونډو باندې ست نه وو نو څه وو دا

ډېرې اوږدې شپې مې ستا د زلفو ذکر وکاوه

وایه که ځانګړی ریاضت نه وو نو څه وو دا

ستاسو په مالت کې هادي ټولو خلکو وپېژاند

رنګ دي که د مینې په تومت نه وو نو څه وو دا؟

۰۷ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# شرط

ستوري رانه وتښتي او توري راته رام نه شي

نن دې له غمونو سره هیڅ رنګه ناکام نه شي

ښکلې په مهینو شونډو دا دعا را تاوه کړه

داسې ورځ دې نه وي چې غزل درته الهام نه شي

زه خو له دې خپلې تنهایۍ سره خوشال یمه

ګوره که د وخت د شرپسندو راته پام نه شي

اوس دې پر بلۍ د سپوږمۍ مخ رڼایي ګورمه

هسک که تر دا منځه د رقیب د کاله بام نه شي

لاس کې دې سیتار، خوږه خندا او لاهوتي سرود

څنګه مې زړګی درته غني نه شي خیام نه شي؟

څوک چې موږه وژني دی هفت سین ورسره ونمانځي

داسې بې ضمیره دې رهبر د چا د قام نه شي

نن یې له رقیب سره د سر د لوبې شرط اېښی

دوا کوه چې ستا غریب هادي پکې ناکام نه شي

۰۲ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# شعر

چانه په ځنګل کې زړګی هیر نه دی

ځکه خو ځنګل د تا په خیر نه دی

خومره هم چې ځان سره سوچ وکوم

تا نه والله زړه ته څوک راتیر نه دی

تش هسې بکواس هسې خبرې دي

ستا ذکر چې نه وي پکې شعر نه دی

بیا دې التفات راکې ساه پوه کړله

درد مې د زړګي هغومره ډیر نه دی

څنګه ټوله ریږدې لارې څارې ته؟

لاس خو مې تر ملا درنه چاپیر نه دی

نن خو دې هادي له بڼو وساته

لا یې پخوانی زخم کوشیر نه دی

۵ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# شک

اوس مې د خپل سيوري ملګرتوب باندې هم شک کوم

تو لعنت د وخت پر نارينتوب باندې هم شک کوم

خدايه ! څه نامردې زمانې ته دې ورګډ کړمه

دې غرض آباد کې سړيتوب باندې هم شک کوم

چا د يوه ښکلي زړه هنداري ته ګذار ورکړ

ځکه يې د ذات پر سپېڅلتوب باندې هم شک کوم

ياره د شرابو سمندر کې اثر نه شته دی

لا چې د هادي پر ليونتوب باندې هم شک کوم

# شکرانه

سرې د ګلو او سنځلو پریماني ده

خدایه شکر د غزلو پریماني ده

ته چې سترګې راکړې کړې، غزل راشي

څه د سترګو اوبولو پریماني ده

بلا ډیره تنهایي مې کړله تیره

اوس د ګل مخ ، د کتلو پریماني ده

لږ خو راشه ، سر مې تول پټې کړلي

د سوکړکو ، د شوتلو پریماني ده

عجیب وخت شو ، ښار له ښو خلکو نه تش دی

هرې خوا ته د ارجلو پریماني ده

هادي یخې شړومبې شومې، غزل لیکې

ستا په خوا کې، د بوتلو پریماني ده

۲۰۱۲/۰۲/۲۵

سیډني

# شهکار

یو شین طوطي د ځان غوندې چغار راته رانښیي

د تاسو تر مالته پورې لار راته رانښیي

لګیا یم تصور کې تا له تورو جوړومه

انځور دې په ځنګله کې شین چنار راته رانښیي

بیګا مې عجیب خوب لید ، ته وا ښه دې لید جانانه !

یو ځوک راته لګیا وي او سیتار راته رانښیي

دا زړه ضدي ماشوم مې د تا سپینه خولګۍ غواړي

دا سره سره اننګي دې په وار وار راته رانښیي

جانانه ما په خپله ځان په دار دی زړولی

سرې شونډې چې ګناه ، بانه اقرار راته رانښیي

دا ځیني ظاهربین چې زموږ زړونه لیدی نه شي

وینځتو کې مو لګیا وي او سپین تار راته رانښیي

اې لېږد هادي زړه کې دغه خپل انځور ته ګوره

د خدای د خلقتونو یو شهکار راته رانښیي

۲۳ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# عادت

زړه خومره نازک لکه هنداره وي

دا غمی خو جوړ د چا له پاره وي

څه که دې سپرلی د ښایست خپور شي بیا

زما به پکې برخه هسې خواره وي

خپل کارونه پرېږدي موږ ته وګوري

ستا د کلي خلک څه اوزګاره وي

سترګې چې مې ورشي دا په خوب ګورم

شین پټی وي ته وې او شنه باره وي

لا مې دا عادت د کلي پاتې دی

جیب مې ډک له چرسو له کوکناره وي

ستا به هادي هیر او که په یاد به وي

زما خو درته تل سترګې په لاره وي

۱۴مارچ ۲۰۱۲

سیډني/پاراماتا

# غروب

زړه دومره ناچار شي چې سلګو سره ملګری شي

لوز دې د دروغو چې وعدو سره ملګری شي

څوک دې چې د لوبو د نانځکو په تول نه تلي

څنګه دې ساده زړه له هغو سره ملګری شي؟

سم دې دا مغل نظر زما خونه میراته کړي

کله چې محفل کې له پردو سره ملګری شي

پریږده چې دې سرو سرو اننګو نه مچه واخلمه

پریږده چې پښتون له پرنګو سره ملګری شي

لړ راته راوخانده زخمي زړه مې ټکور کړه بیا !

ګوره که دا ژوند مې له اسرو سره ملګری شي

زیږ مازیګری شي د غروب منظره جوړه کړي

لمر دې چې د مخ د زلفو غرو سره ملګری شي

ستا دغه هادي په زړه ماشوم دی لږ یې ښه ساته

تا نه چې خوله واخلي له نیشو سره ملګری شي

۸مارچ ۲۰۱۲

سیډني

# فیس بک

۱

هیلو ! شته یې صیبه؟

سلام. شته یم وروره

څه کیسې دي؟ ژوند څنګه دی؟

بد خو نه یم ، ساه وباسو.

رښتیا ستا ستېټ مې خوښ شو !

ښه رښتیا دې خوښ شو؟

هو لایک مې کړلو.

هغه ستا عکس هم ښه وو

والله چې ځوان ښکارېږې !

هههههه ، قربان دې شمه.

ښه نو زما ستېټ هم ګوره، یو څه مې نوي پوست کړل،

یو چا چټیات لیکلي ، یو ښه ځواب خو ورکړه !

آشنا بیغمه اوسه، همدغه اوس ورځمه

داسې ځواب به ورکړم،

چې یې زړه له دنیا بد کړم درته

هره خبر به یې رد رد کړم درته

ښه نو اوس ځمه درنه

خو چې کومنټ دې یاد وي ! ! !

ورځه بیغمه اوسه

۲

څه نوې زړې؟؟؟

اوهو ته يې؟

سلام ، سلام استاده !

وطن کې بیا انتحاري شوې ده،

څلور کې مړه او لس زخمیان دي پکې،

وايي چې ټول بیوسه خلک مړه دي.

اوه ، الله دې رحم وکړي.

نور څه نه شته نوې؟

نور به نو څه ووایو ،

صحت مو ښه دی استاد ؟

ښه یم ، په مخ دې ښه شه دستي

صاحبه روغ دې غواړم.

۳

اوهو چټ کې خو هيڅوک نه شته

اوس به نو هوم ته ولاړ شم

اوهو يار خو سندره ایښې

دې بل بیا عکس جګ کړی

عجیب تازه ښکاریږي ! ! !

راځه چې لایک یې کړمه

اوهو ښه شو دا یې سپک کړي سره !

هاهاهاها والله چې ټول رښتیا دي

همدوی را وران کړ وطن

همدوی قتلونه وکړل

همدوی پردي راوستل

شپه هم ناوخته ده ،خو ځه یو ښه کومنټ پرې لیکم.

۴

سړیه سات وګوره !

شپه له دوو اوښتې ،

او ته ،

لا د شیطان دغې بکسې ته ناست یې

دنیا ویده ده،

او ته ،

مفتې کیسې ته ناست یې

خدای دې کور د کمپیوټر د خالق وران کړي

په وایرس دې دا لب ټاپ درته وران وران کړي

دا یاران دي څومره ډیر دی

یو خو نه دی،

له سلګونو نه ور تیر دي

له دي ټولو به یي ښځې په عذاب وي

دي فیس بک به هر یوه نه وړی خواب وي

**۵**

ښځې بس کړه

دا دی خلاص شو ،ساین اوت کیږم

کمپیوتر شوټ ډاون کومه

نورنو سترړی یم ویدیږم

اخ کومنت شو رانه پاتي....

جنوري ۲۰۱۲

# قبله

څواني جار د تا له نومه کړم جانانه

ته چې نه یې، شعر له کومه کړم جانانه؟

ستا د زلفو په ماښام پسې زړه چاودی

ژوند بیخونده، بې مفهومه کړم جانانه

ستا د مخ قبله به کوم لوري پرته وي؟

وایه څرنګه مالومه کړم جانانه؟

یو د سترګو چریکې جګړه دې ښه ده

نور نفرت د جنګ له نومه کړم جانانه

د دې ښار په رنګینو کې سکون نه شته

چا له خپل کلي محرومه کړم جانانه؟

لا هماغسې دښمن د هر فرعون یم

لا هم مینه له مظلومه کړم جانانه

یوه لپه د کابل خاوره خوراوړه!!!

چې مې ډکه ترې رجرومه کړم جانانه

۲۰۱۲/۰۲/۱۰

سیډني/استرالیا

# قمار

خیر دی درسره دې وي په کار نه دی
تانه که زړګی زما اوزګار نه دی
یاره رانیژدې شه لږ مې تود کړه ته
غیږ مې تشه مه پریږده سهار نه دی
ستا د سرو منګولو د زور نه دی نور
رغوي کې دې زړه دی څه انار نه دی
ګوره لوپټه له ځانه تاوه کړه
دا خو زموږ کلی دی څه ښار نه دی
ګوتې مې د زړه په مراندو مه وهه
غیږه کې دې زه یمه سیتار نه دی
دا ځل مې دا ژوند له تانه ځار شه خو
مخکې مې وهلی دا قمار نه دی
چا وې د هادي پانه اوښتې ده؟
ګوره د ښایسته وو پرې وار نه دی

۲۷ اپریل ۲۰۱۲

سیډنې

# ګناه

څه ښايسته ګناه باندې مې ونيسي

ستا د شونډو غلا باندې مې ونيسي

خلک ورپسې او رقيب مخکې وي

دې توره بلا باندې مې ونيسي

لاره خو تياره وي تر تا درشمه

ستا د مخ رڼا باندې مې ونيسي

دار راته تيار کړي، فتوا ولولي

حکم د ملا باندې مې ونيسي

ښه دی ارماني له دنيا نه ځمه

ستا د خولې دعا باندې مې ونيسي

ما هادي له خدايه تل همدا غوښتل

تا سره خندا باندې مې ونيسي

# ګونګی

پاتې مې زړګی دی ستا لاسونو کې

مات نه شي منګی دی ستا لاسونو کې

وایه چې د چا زړګی دې وسیزه؟

بیا خنګه لوګی دی ستا لاسونو کې

مړ شمه ژوندی شمه شیبه شیبه

ژوند دی که مرګی دی ستا لاسونو کې؟

ټوله زندګي مې ستا په واک کې ده

جوړ چې مې کوړګی دی ستا لاسونو کې

هاغه سندرمار او خبرلوخ هادي

ځرنګه ګونګی دی ستا لاسونو کې!!!

۱۱ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# کافر حسن

مـالت رښا دی زه تیاره کې ناسـت یم
په سرو لمبود دوزخ خوله کې ناست یم
دا یـو امـید راته ســـکون راکـوي
چې ته خوشته یې، ستاپه زړه کې ناست یم
اوس کـه راګـورې ځوک بـه هیڅ نه وایي
اوس خو ملنګ یم په کوڅه کې نـاست یم
لـه خدایه مرګ غـواړم، اوبه اوبه شم
رقیب دې خوا کې، زه په وره کې ناست یم
ظـالـمـې لـږ خـو لـوپـټـه کـړه لـرې!
یو شوخ نظر دې ګریوانه کې نـاست یم
د تـــا کـافـــر حـــسن تــه لاره نـیـــسم
لکـه طالب په پورې غـره کې نـاست یم
دا درتـه چـاوې چـې آبـاد شو هــادي؟
لا خـو د غــم پـه تـنـاره کـې ناست یم

۱۱مارچ۲۰۱۲

سیډني

# کاڼی

خدایه شکر، غزلزارو کې اوسیږم

ستا د دوه سترګو هندارو کې اوسیږم

ستا د مخ له کعبې تاو شمه،مومن شم

ګنې غرق یمه کفارو کې اوسیږم

د دښمن تندی چې ګوري، زه وریاد شم

توره تیږه یم، په لارو کې اوسیږم

لا مې روح ، په پورې غرو کې سرګردانه

لا په للمو ، په شدیارو کې اوسیږم

د ښایسته خلکو ، کمی دی په دې ښار کې

په دوه مخیو، په ناکارو کې اوسیږم

هر فرعون ته ، تیره کاڼی یم د غرونو

د آسیا د زړه، په بارو کې اوسیږم

هادي خدای دې، د پښتون د خاورې مل وي

ښامارانو او خونخوارو کې اوسیږم

۲۰۱۲/۰۲/۱۹

سیدني/استرالیا

# کعبه

خدای راته تراشلی ستا وجود زما په خوښه دی

ستا په نرمو شونډو هر سرود زما په خوښه دی

ښنګه به راپاڅم د اخلاص سجدو نه ووځم؟

زه هغه عابد یم چې معبود زما په خوښه دی

شنه شي له حیا نه خاموشي په دنیا جوړه کړي

شور د انقلاب کې دا رکود زما په خوښه دی

وخت وو د غرور پر نیلي ناسته تیریدې رانه ! ! !

اوس دې چې دعا او هم درود زما په خوښه دی

خومره خوش نصیب یم چې یې زړه زما په واک کې دی

دا هغه کعبه ده چې ورود زما په خوښه دی

مسکه شوه هادي بیګا یې غوږ کې راته وویل

نور دې زندګي او هست و بود زما په خوښه دی

۰۵/مارچ ۲۰۱۲

سیډن

# کفاره

چاته به زړه ورکړې او پر چا به باور وکوې؟

دا خو ډېره ګرانه ده چې ځان نه حذر وکوې

سترګې په دنیا کې د هر چا مفاد پرستې دي

چاته چې نیژدې شې نو احساس د خطر وکوې

اخلم بدنامي او قرباني لکه بوسې په خوند

نه شي محبت چې پکې ویره د سر وکوې

زما د زړه وطن کنډو کپر دی خو ډیر ښکلی دی

خوښ به دې شي یاره که یو ځل پرې ګذر وکوې

څنګه یاره تیر وختونه ټول له خاورو لاندې کړې!!!

مخ له مانه واړوې بل لور ته نظر وکوې

یاره کفاره د قضا شوې غیبړې راکړه ته

نه چې ګناهکاره له دې کلي سفر وکوې

موږ خو د هادي د خیر او شر واکمنه تا ګڼو

ته یې پر شر واړوې هم دفع د شر وکوې

# کيفيت

خوب کې مې ناره له خولې نه ووځي

ستا نوم مې ښکاره له خولې نه ووځي

خلک مې راپاڅوي جيټکه راکړي

ژر مې کليمه له خولې نه ووځي

بيا مې دې اوزګارو خبرلوڅو ته

سل رنګه بانه له خولې نه ووځي

دا به څه کيفيت د محبت وي چې

وسوځم لمبه له خولې نه ووځي

تا ته سجده وکړمه مومن شمه

خدای ته مې توبه له خولې نه ووځي

سترګې دې راياد شي بيخوده شم

نوې ترانه له خولې نه ووځي

تا چې په کوم ټکي زه کافر کړمه

شيخه زما هغه له خولې نه ووځي

لږ خو د هادي خاطر ته وګوره

څه که دې وعده له خولې نه ووځي

۲۵ اپريل ۲۰۱۲

سيډني

# لار ورکی

له مودو مې د یو چا د خوږو سترګو ، په لټون پسې نظر ګرځاوه

له مودو مې خپلې غیږ کې د یو چا ،

د خوږې ساه د اخیستو تودوخه نه وه په یاد

له مودو مې د خپل کلي د اکا د حوض په غاړه

د هغه سوي چنار ښاخ کې د ناست بوم په شانې

بیخي یوائې او تنها د خپلو ګوتو په شمارلو باندې وخت تیراوه

د ژبورو خلکو ښار کې یو ګونګی ناست وم

خو خدایزده څنګه ته پیدا شوې او په ذهن کې را وټو کیدې

بیګا مو ټوله شپه یو بل ته مسیجونه لیږل

بیګا مو ټوله شپه رڼه تیره کړه

نه مو موبایل ، نه مسینجر او نه ایمیل پرېښوده

تر شنه سهاره په سلګونو ځلې

زه له هغې هغه له مانه جار شوه

آخر مو وپتییل

چې سبا ګورو سره

او

یو بل به کلک په غیږ کې نیسو

او ترهغو به یو بل نه خوشې کوو

څو د یو بل د وجودونو په تودوخو کې او به شو سره

هغې لا دا هم ویل

چې زه ،

د کندز د سویو دښتو د غاټولو په شان

ستا د سینې پر سوې دښته کې راشنه شمه ،غوټۍ به وکړم ، ګل به شمه

وعده مو وکړه، ځای مو وټاکه

او دواړه ښه آرام ویده شوو

ان په خوبو کې مو هم

یو بل ته غاړې ورکړې

خدایزده چې څومره ښایستوکو ګناهونو رانه سر وواهه؟؟؟

۲

خو نن،

دا دی موټر ته ناست یم

کلي مې تاو کړه او روان یمه هغې ته ورځم

خو زه په ښار کې نابلد یم ، مساپر یم دلته

د ښار یوه کوڅه راته مالومه نه ده

اوس مې د ګاډې جي پي ایس هم راته کار پرې ایښی

زه لکه ړوند پر دې امسا روان یم

دا مې خپل ښار خو نه دی

چې د قرغې او د پغمان

د مينانو د ليدو هره ګوښه راته مالومه وه ښه

او اوس ولاړ يم حيران

چې څنګه ولاړ شم او په کومه ورشم

آه دا دردوونکې نه ده

چې يوه ښکلې وي ولاړه انتظار وي درته

او ته ورتللی نه شې؟؟؟

۲۰۱۲/۱/۱۲

سيدني / استراليا

# لارۍ

موږ عادت یو ،

چې یا ښکته ځو یا پورته.

موږ له دوه لارو نه پرته،

بله لاره،

آزمویلې نه ده.

وخت یې نه دی،

چې پر بلې لارې،

فکر وکړو؟

**۱۲مارچ۲۰۱۲**

سیډني

# لطافت

يکه زار دې راته وښود ، يه قربان دې راته وښود

لطافت د ترنم، لکه باران دې راته وښود

زه خو ورک ومه له ځانه، چې تا څرنګه پيدا کړم؟

محبت د ښکلي ذات او د انسان دې راته وښود

زه په ورانو لارو سر وم، په بې لارو ، لارو سر وم

تا په خپله طريقه کړم، او عرفان دې راته وښود

روح دې څنګه راکې ګډ شو ، يو په بل کې سره اوسو

هم کثرت دې راته وښود ، هم جانان دې راته وښود

اوس په تاکې داسې ورک يم، چې خپل ځان رانه هيرېږي

زه ذره د تورو خاورو ، کهکشان دې راته وښود

څه عجيبه منظره وه، چې هادي ته مخامخ وي

چې دې سترګې راښکاره کړې او پيزوان دې راته وښود

۲۰۱۲/۰۲/۲۹

سيډني

# لکه باران

څه خوږو نغمو لکه باران فضا نیولې ده

ما په ډک محفل کې د پېی مخې خوا نیولې ده

زه غریب شبکور یمه دنیا راته تیاره ښکاري

چا راته پرلاره د خپل مخ رڼا نیولې ده

ړوند یمه له تا نه سیوا نوره نړی نه وینم

ټوله نړی ته یې، دنیا ستا ښکلا نیولې ده

وخته به مې غیرت په محفل کې له یار تاوه وه

مخه مې میراتې د پښتو حیا نیولې ده

خدایه ! د بیوسه انسانانو سر ته خیر کړې ته

بیا د وحشت وریځو د وطن هوا نیولې ده

زموږ له ښې یې وویسته دا خاوره یې په اور وسوه

څه که سره کاپر یا څنور ملا نیولې ده

تا په ښو ښکار دی، هادي نور د خوځیدو نه دی

اوس چې یې مرغی د زړه منګول کې تا نیولې ده

# لوټلې رڼا

دا بې ذوقه خلک د ښکلا په قدر څه پوه دي

دوی د هوس تږي دي د چا په قدر څه پوه دي

سل ځلې که ستوري او رڼا په لپو وويشې

دا په تيارو روږدي د رڼا په قدر څه پوه دي

ورشه خو ويريږم چې نازک زړګی دې مات نه شي

ښار دی د بيقدرو خوک د تا په قدر څه پوه دي

هلته د جالانو د شعور رڼا لوټلې ده

دوی نو د امان او ثريا په قدر څه پوه دي

مړو ته په لمن کې لمر او ستوري ډالی څه مانا؟

مړه د تحول او ارتقا په قدر څه پوه دي

چا چې د خپل ورور له وينو درس د بقا وانه خيست

دوی نو د حسين او کربلا په قدر څه پوه دي

دومره ساده نه يمه چې زړه دې هادي وخورمه

دا کلی د نورو دی زما په قدر څه پوه دي

۱۳ اپريل ۲۰۱۲

سيډني

# مخه ښه

ته چې ځې په مخ دې ښه،

تر مخ دې سره ګلونه

لار دې رڼه ، ډوډۍ دې ګرمه، اوبه يخې اوسه

لمر او سپوږمۍ دې هم تر مخې اوسه

د دنيا ټولې خوښۍ ستا په برخه

د خوند شيبې او د ګلونو کلۍ ستا په برخه

دا دې ږومبۍ شه خو وروستۍ سفر دې خدای مه کوه

خدای دې لره ، خدای دې له سترګو پناه ځای مه کوه

اوه چې څومره سترګې تا ته لارې څارې ! ! !

اوه چې څومره زړونه ، ستا په تش يوې موسکا ژوندي دي ! ! !

خو ته مغروره د پخوا په شانې

د خدای له نوره د پخوا په شانې

ورځه ، ورځه په مخ دې ښه

تر مخ دې سره ګلونه !

جنوري ۲۰۱۲

سيډني

# مساپر روح

نیمه خبر وکوي او نیمه خبر پرېږدي یار

ګوتې مې د زړه په پرهرونو باندې کېږدي یار

روح د مساپر دی د دمې قسمت یې نه شته دی

راشي د رڼا غونډې او لمر په شانې لېږدي یار

مړ مې کړي، ماشومه شي او ډېره ډېره ورانه شي

وخاندي او سر مې راته کېږدي پر سرویږدي یار

لا یې خوږو سترګو کې ماشومه حیا پاتې ده

غېږ ته رانیژدې شي خو د پاڼې په شان رېږدي یار

څرنګه هادي د زړه وطن په واک کې وساتم

هره ورځ مې ذهن کې په نوې بڼه زېږدي یار

۱۸ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# مطالعه

د خپل ضمير ،

په آيينه کې ګورم،

د خپل وجود ،

په دايره کې کرځم،

لا مې د ځان،

مطالعه کومه،

لا مې د خپل ځان انتها ته،

رسيدلی نه يم.

۱۲مارچ۲۰۱۲

سيډني

# معتاد

وادې خیستم خاورو په شان باد دې کړمه باد دې کړم

ځومره چې دې وشیندلم هغومره آباد دې کړم

زه د زمانې د محاسب له یاده وتی وم

تا مې پاڼه واړوله ټولو ته وریاد دې کړم

ما مې د ژوند پاڼه د نفرت په لمبو سوې وه

خدایه چې دا ځنګه په الفت باندې معتاد دې کړم

زه د ویریدلي ماشوم خوب ومه، سلګۍ ومه

ته راته ناره شولې اوچت دې کړم فریاد دې کړم

اوس مې د سرو شونډو پیمانه کې جنت وموندہ

شیخه مبارک شه که بدنامه په الحاد دې کړم

۲۴ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

# ملاماتی

نور مې نو د تورو زلفو سیورو سره مه ګورئ

پروت یمه پر خاورو ما له ستورو سره مه ګورئ

وخت وو چې دا ټوله زمانه د چا غلامه وه

نن هغه ملاماتی له سرزورو سره مه ګورئ

نور خلک چې بخت لري د ستورو پر ټال وزانګي

زه د یتیم زړه یم ما له نورو سره مه ګورئ

اوس مې په لاسونو کې ښکار شوې مرغۍ نه ساتم

بس دی نور مې باغ کې شامتورو سره مه ګورئ

ما لکه ماشوم یو خو رنګین خوبونه ولیدل

بیا مې د ښایست له ستاینتورو سره مه ګورئ

زه خو یې هادي د بدو ورځو بلاګیر ومه

ما یې د ښکلا د رڼا لورو سره مه ګورئ

د می دویمه ۲۰۱۲

سیډني

# منزل

زه دې منزل یمه جانانه د تا لاره نه یم

څنګه په خوله درځي چې وایې زه اوزګاره نه یم؟

لا مې له شونډو ستا د مچو کرمې هیره نه ده

که څو هیرجن یمه خو ډیر لکه هنداره نه یم

له تا مې ځار د سپین ږیرتوب پر برید ولاړه ځواني

لا هغه ستورې یم وتلې له مداره نه یم

ما په یوائې ځان د ژوند بلا ته غیږ ورکړې

په ټوله ژوند کې له غمونو نه بیکاره نه یم

زه لا تر اوسه هم د سوال پر یارۍ روږدی نه یم

زه مې دا سر درجاروم دومره ناچاره نه یم

تا چې بیګا هادي په کمه تیږه وتللو

لا دې فارغ د خولې د زهرو له پرهاره نه یم

۲۲مارچ۲۰۱۲

سیډني

مور ته مې او خوا ښې ته مې ! چې دواړه مې يو شان ميندې دي، د مور د ورځې په مناسبت:

# مورې !

مورمې د سپارې په شان ده مور مې د قرآن په شان
دومره مهربانه ده د ځمکې او آسمان په شان

سترې سترې راشمه د دې پر زنګون سر کيږدم
يخې شړومبې راکړي او دمه مې کړي د ځان په شان
مورې يو ځل بيا مې په ويښتو کې ګوتې ووهه
سپين پلو دې خپور کړه زما پر سر د سايه بان په شان
زه که پر ملا مات يمه يا سل ځايه لويدلى يم
مور ته مې ښکاريږمه پادشاه د دې جهان په شان
مورې مورې مورې ! نور مې زړه په ماتيدلو دى
ما د تيږو غر کړه يا مې کلک د خپل ايمان په شان

مورې دا يتيم هلک هماغسې بې سره دى
وايه هادي ته چې لږ سم شي د انسان په شان !

# نابود

تا نه راپیل شوی یم تر تا پورې محدود یمه

نورنو د دنیا له ښې نه وتی یم نابود یمه

څه که زه او به شوم؟ د زمزم د چینې سیال شومه

یو ځاځکی خوله د غنمرنګې پر وجود یمه

وامې خله رجړومه کې د څنګ جیب کې مې وساته

تاته خو رانجه یم د رقیب سترګو ته دود یمه

لمر مې په لمن کې دی او ستورې په ورغوې کې

ستا د تخیل د رنګینو د ښار حدود یمه

ناست یم له بیګا نه چې شهکار انځور دې وباسم

نوره مې تکمیل یې، زه دې سترګو کې کمبود یمه

مه وایه جانانه !چې هادي خو رانه لرې دی

زړه کې دې او سیږمه په خوب کې دې موجود یمه

د مې لومړۍ ۲۰۱۲

سیډني

# ناکام

زلفې راخورې کړه لږ آرام کوم

بیا درسره هر رنګه ناکام کوم

څنګه به په نیمه خبر پوه شمه؟

څنګه به تفسیر د دې ابهام کوم؟

زه شډل پښتون نو په دې څه خبر؟

نور به مې له خولې سره هم پام کوم

ستا له مکتبي ذهنه قربان شمه

ذکر به دې هم په احترام کوم

زما غریب همدوغومره ګناه ده چې

مینه له انسان سره مدام کوم

وایي د تا خوله د ماتولو ده

کله چې خبره د خپل قام کوم

نور نو له هادي نه یاره څه غواړې

ټولې خیلخانې ته دې سلام کوم

۰۹ مارچ ۲۰۱۲

سیډني

# نن هوا د تا په شان ده

نن هوا د تا په شان ده، کله لمر کله باران وي
دغو ښکلو ته ملګرو ! بدلیدل خومره آسان وي
په شیبه کې مرور شي، په شیبه کې بیا پخلا وي
مینان ملامت نه دي، دوی په زړو کې ماشومان وي
په دنیا کې داسې هم شي چې دې هیڅ نه وي جانانه
خو یو څوک دې زندګي شي، پر یو چا دې زړه ودان وي
ټوله ورځ یې لارې څارم، ټوله ورځ مې اندیښنه وي
څوک مې رګ رګ کې اوسیږي، لکه ساه راکې روان وي
هغه ورځ هم لرې نه ده چې مې سر پر سینه کیږدي
چې آسمان کې وریځې ښکاري د اوربښت هلته امکان وي
زه یې هر زخم ته ژاړم، په رښتیا ورته خپه یم
که مې مور د رقیب بوره، که مې کور د دښمن وران وي
هادي پریوځه او ویده شه، که کابل په خوب کې درشي
خوند به و اخلې که بهیر وي او په ستیج باندې کاروان وي(۱)
۱۴ اپریل ۲۰۱۲
سیډني

(۱)منظور افغان ادبي بهیر او نامتو شاعر پیر محمد کاروان دی.

# هنداره

زه مې د زړه هنداره پاکه ساتم

دغه ښيښه لکه تنها که ساتم

يو اڅې ته او خدای به اوسئ پکې

دا جزيره نوره خپلواکه ساتم

په دې اميد چې ته به راشې کله

سترګې لمدې او سينه چاکه ساتم

ستا په زړګي د نفرت وربځې خورې

زه دې لا هم بر له افلاکه ساتم

شيخان دې خپله ، زه به خپله کوم

زه مې دنيا د بل له واکه ساتم

رقيب ناوليه ، په مرداره روږديه !

د يار کوڅه له تا ناپاکه ساتم

۲۰۱۲/۰۱/۲۲

سيډني/استراليا

## هیر

سیوری یم د چا د خوږ وجود پر چنار پروت یمه

واه څومره نیازبین یمه د زلفو پر تار پروت یمه

تاو رانه لاسونه لکه هار د ګلو پریږده ته

مه مې ښوروه چې سترې کرار پروت یمه

یاره په دې لاره که راتلې نو پښه نیولې شه

جګ مې کړه، غمی یمه نو څه که پر لار پروت یمه

ما د جل وهلې زمانې د ستم نښې ته

لپه کې اوبه راوړه چې تږی، نهار پروت یمه

ټوله شپه مې خوب کې ستا د شونډو شراب څښلي دي

لا له تندې مرمه، لا دې غواړم خمار پروت یمه

ځان له هادي هیر دی، ته د ورځو حساب څه غواړې؟

مه مې زنګوه یاره چې مړ یم، پر دار پروت یمه

## هیر وجود

بخت ګوره چې ستوری او سپوږمۍ زما په واک کې ده

څومره بختور یم ستا خولګۍ زما په واک کې ده

څه که مې تیارو کې دغه خپله رڼا ورکه شوه

ستا د خوږ وجود دا ډیوه ګۍ زما په واک کې ده

مه وایه چې زه دې د نظر له دایرې لرې یم

لا دې د خوبونو دنیاګۍ زما په واک کې ده

خیر که دې حالاتو مانه خپل وجود هیر کړی دی

ستا زړه کې او سیېمه نړۍ زما په واک کې ده

کله به همزولو کې ښکاره جانانه ووایې؟

هاغه د هادي د زړه مرغۍ زما په واک کې ده

۲۲ اپریل ۲۰۱۲

سیډني

د پنجوايي د پيښې مظلومو شهيدانو ته:

# د کنداري ميرمنې وير

١

اخ جوړه بچي مې نه شته د کور ستنه مې ده ړنګه
وې په خپلو وينو لامبي اوس يې وړي زما له څنګه
زما بچي خو مکتبيان وو ، د دوی څه وو ستا له جنګه؟
وی جوړه بچي دې ومره، سره کا پره سره پرنګه !

×××

بيګا دواړو رانه غوښتی يو يو ګرم تيکلی وو
دا يو سره خوله هلکی وو دا بل ګل غوندې زلمی وو
اوس يې بريتې تاوولې پاچاهۍ ته جوړ سړی وو
يو مې سر ته راته پروت وو بل مې پښو ته لکه وری وو

×××

چې په توره نيمه شپه کې سور ليوه پر کاله راغی
لکه سپی چې ليونی شي غوريده پر کاله راغی
هره خوايې اورولې سرې ګولۍ له ماشينګنې
خوند يې اخيست زموږ له چيغو غړميده پر کاله راغی

×××

مسلمانو خويندو ورونو ! زما دا خيرې ګريوان ګورئ؟

دا نوکارې زما په مخ کې دا د وينو نښان ګورئ؟

دا چې وينې وينې ژاړي، دا چې مرګ له خدايه غواړي

دا زما د بچو پلار دی، دا مظلومه انسان ګورئ؟

×××

د ده مخکې توره شپه کې ، سره کاپر يم لټولې

پاچا زموږه چيغې واوره ! يو خنځير يم لټولې

پاچا سپې يې راشکارلې،پاچا سر يې راته لوڅ دی !

پاچا بند په بند يې ټوله، ښه په زير يم لټولې

×××

٢

احمد شاه له خوبه پاڅه ، کنداری میرمنه ژاړي !

سره کاپر ده زورولې يوه بله غزا غواړي

احمدشاه د تا په پښتو کې يوې ښځې تندی ايښی

چا يې وړې لوپټه ده تا نه خپله حيا غواړي

×××

احمدشاه ! د سرو کاپرو ستا په مينه کې غوبل دی

هره شپه په کور را اوړي په سرونو مو اور بل دی

احمدشاه ! ککرې ډيرې ، خو د سر سړی مو نه شته

موږ به ټوله ورپسې شو خو کمی د يو اتل دی

×××

احمد شاه ! بیگا یې بوره د جوړه زلمیو مور ده

دا کیسه څه نوې نه ده، هره ورځ په یوه کور ده

اخ په ویر یې کینولې د تنکو ژړکیو خور ده

بیا د غم توره لمنه خوره شوې لور په لور ده

×××

احمد شاه ! کیسه مې واوره زما زړه له ژونده تور دی

د کافرو په لاسونو سوځیدلی زما کور دی

احمد شاه ! پاچا مې ژاړي، ورته ګوره دا یې زور دی

او د دین په نوم چې جنګ کړي دا هم خدای چې په زړه تور دی

×××

لویه خدایه ! زموږ په ملک کې د دستار سړی پیدا کړه

چې مشال غوندې بلیږي یو د کار سړی پیدا کړه !

سفید پوشه بلا ورکه ، ژړندوکی پاچا واخله !

یو هوښیار سړی پیدا کړه د وقار سړی پیدا کړه !

۱۲مارچ۲۰۱۲

سیډني

# یادونه

ښکلو سترګو جادوګرو یم وژلی

ستا پستو پستو خبرو یم وژلی

زاره چاودې او زړه تنګه زندګي ده

ماتو زړو د مساپرو یم وژلی

څه مې پوښتې چې ژوند څرنګه تیریږي؟

بس یادونو د ملګرو یم وژلی

شین ځنګل په مخه راشي په ژړا شم

د پکتیا غوځو نښترو یم وژلی

په زخمي وجود مې تول پسې اخیستي

د خلویښت ملکو کافرو یم وژلی

په یو څو خوږو خبرو مې تکور کړه

خود بینیو دې اکثرو یم وژلی

هادي اوسم د بېقدرو په مالت کې

د بیخوندو تشو غورو یم وژلی

**۵ مارچ ۲۰۱۲**

سیډني